# په لغمان کی اوسیدونکی قامونه او پرگنی

## د داکتر سعید افغانی په لیکنو کی




Ketabton.com



لیکنه اوټولوونه :
الحاج امین الدین «سعیدی – سعید افغانی »
دافغان استراتیژیکو څیړنیزمرکز
اودحق دلاری کلتوری ټولنی مدیر مسؤل – جرمني

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په لغمان کی اوسیدونکی قامونه او پرګنی
# د داکتر سعید افغانی په لیکنو کی

لیکنه اوټولوونه :
الحاج امین الدین «سعیدی – سعید افغانی »
دافغان استراتیژیکو څیړنیزمرکز
اودحق دلاری کلتوری ټولنی مدیر مسؤل – جرمني



بسم الله الرحمن الرحيم

## دمولوي داکتر سعید افغاني لنده پیژندنه :

خدایبخښلی مولوي داکتر محمد سعید ( سعید افغاني ) ( ۱۳۰۰ ) هجری شمسی کال کی دلغمان ولایت دخیر آباد په کلي کی وزیږ یده ، هغه دخیل پلار مولوي عبد المجید ساپي چه دخپل وخت له مشهور و مدرسونو څخه وو دتیر ګړوی دجامع جومات خطیب او امام وو ، او هم یی دنورومخورو روحانیونه څیلی لو مرني زده کړي وکړی او بنایسته ښه ملا شو .
وروسته بیا محمد سعید دکابل عربی دارالعلوم کی شامل شو ، کله چه په (۱۳۲۵ هجری شمسی ) کال کی ددغی مدرسی نه فلرغ شو ، په

داکتر محمد سعید « سعید افغانی »
**Prof.Dr.Said Afghani**

سر یی دمولوي پکړی وتړله شوه ، سمدستي په همدغه مدرسه کی داستاد په حیث مقرر شو ، او بیا په کال ۱۳۳۷ کښی دننګر هار دنجم المدارس دمدرسی دمدیر په حیث وټاکل شو .

یو څو موده دپو هنی او روزنی دوزارت دمسلکي تدریساتو غړی شوو او بیا بیرته دنجم المدارس مدیر او وروسته دحبیبی لیسی ته ددینی علومو دښوونکي په حیث وټاکل شو .

سعید افغانی په ( ۱۳٤۲ ) هجري شمسي کال مصر ته ولاړ او تر ( ۱۳٤۷ هجری شمسي ) کاله پوری په ( جامع الازهر ) کښی دفلسفي او الهیاتو په زده کړه بوخت و .

کله چی دوکتور مولوی سعید افغاني وطن ته را ستون شو ، نو لو مړی دعالي دارالمعلمین داستاد په توګه دنده تر سره کړه او بیا وروسته دکابل پو لتخنیک ته لاړ ، او هلته دوخت دمحصلانو او استادانو ددموکراتیکو مبارزو له لړی سره دخپل دینی او مذهبی مقام ساتلو سره سم یو ځای شو او د کابل پو هنتون داستادانو له خوا دهغه وخت داستادانو اتحادي غړی او بیا دپو هنتو نونو داستادانو د اتحادیي رئیس مرستیال په تو ګه انتخاب شو .

مولوی سعید افغانی له بشري ټولنی سره له هر ډول توپیر او تبعیض پرته مینه درلوده او دنړی والی سولې یو پیژندل شوی مبارزوو، په زیاتو نړیوالو هغو سیمینارونو کی برخه واخیسته چی سولې ته وقف شوی وي او پدی مبارزی کی یی دابو علي سینا زرمی کالیزی جایزه تر لاسه کړه .

سعید افغاني آن دروانی پیری څلورمي لسیزې په پیل کی ځانګړی هڅی وکړی چی په هیواد کی دملی یو والی لپاره دیو پراخه ملی جبهی ضرورت خلکو ته په ګوته کړي او هغه یو داسی تولنیز پر مختګ او تولنیز بدلون سره چی دبیعدلتی کمبله ټوله کړي مینه درلوده ، په همدې وجه ( ۱۳۵۲ هجری شمسی ) کال کښی دقضا عالي شورا غړی او وریسی دتمیز د عالي محکمي رئیس ( قاضی القضات ) شو ، وروسته داسلامي شئونو وزارت په راس کی وټاکل شو ، او بیا دوخت دملی جبهی مر ستیال او هم دی علما ؤ او روحانیون عمومی مشر شو .

سعید افغانی د ( وه دیرش ) توکه کتابونه او د دوه زرونه زیات مذهبی ، فلسفي ، اجتماعي ، او ادبي مقالي لیکلی چه دانیس ، هیواد ، پامیر ، کاروان ، ننګر هار ، دکابل مجله ، پیام حق ، قضا ، او دهیواد په نورو ورځپانو او مجلو کښی خپاره شوی دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## آثار او تالیفات

شیخ الاسلام عبد الله الانصاري په عربي ژبه ، دچاپ کال : ١٩٦٧ مصر- قاهره
نابغة الشرق سید جمال الدین الافغاني ،په عربي ژبه ،دچاپ کال ١٩٦٧ قاهره – مصر
دشرق نابغه سید جمال الدین افغاني ، په پښتو ژبه چاپ کال : ١٣٣٥٥ داطلاعات او کلتور وزارت .
افغانستان ، تاریخاً وحضارتاً وکفاحاً په عربي ژبه .
العقیدة الاسلامیه وآرا المعتزلة والاشاعرة والماترید په واختلافاتهم
الاشارت والتنبهات ابن سینا ، په پښتو ژبه ، دچاپ کال: ١٣٥٩کابل – افغانستان داطلاعاتو او کلتور وزارت .

## درسي کتابونه :

تفسیر دیولسم ټولګي دشاګردانو لپاره په پښتو او دري ژبه
عقاید درسي کتاب ( دتعلیم او تربیه دوزارت لخوا )
منطق درسي کتاب( دتعلیم او تربیه دوزارت لخوا )
اساسات اسلام به نګاه علم وفلسفه ددارالمعلین محصلینو ته درسي کتاب .
کلتور اسلام از نګاه علم وفلسفه ، په دري ژبه ، دچاپ کال :١٣٤٩ کابل افغانستان .
مختصر تاریخ افغانستان ودول متمدن اسلام . درسی کتاب دپولتخنیک دمحصلین درسي کتاب .
محمد صلی الله علیه وسلم رهبر بزرګ اسلام ، دچاپ کال ١٣٦٣ هجری شمسی کابل – افغانستان
پلاروطنه ملی جبهه او یا دلته دتولنیزو ستونزو دحل لاره ، دچاپ کال ١٣٦٢ کابل –افغانستان
خطر جنګ هستوی ، په دري ژبه ، دچاپ کال : ١٣٦٣ کابل-افغانستان
اندرز ها په دری او پښتو ژبه
آداب قاضی په دری ژبه دقضا ٍ دکورس د محصلینو لپاره دعدلی وزارت لخوا چاپ شوی .
والصلح خیر ، صلح او آرامش از دیدګاه اسلام دچاپ کال :١٣٦٢ کابل – افغانستان.
تاریخ تمدن اسلام ، په دری ژبه ، دچاپ کال : ١٣٦٠هجری شمسي کابل- افغانستان.
مولوي داکتر سعید افغاني د دوه زرونه زیات مذهبی ، فلسفی ، اجتماعی ، او ادبی مقالی لیکلی چه د انیس ، هیواد ، کاروان، پامیر ، کابل مجله ،دپیام حق مجله ، دقضا او نورو داخلی او خارجی نشراتو کښی په نشر رسیدلی دی .

مولوي داکتر محمد سعید ( سعید افغاني ) د « 1364 »دحوت په اوومه د(1985 فبروری ٢٥ مه ) ددری شپیتو کالو په عمر دافغانستان دطبی علومو اکادمی په روغتون کښی ، مهربان ، خوا خوږی او تپاند زړه ودرید .
په سبا یی په کابل کښی ، دجابر انصار علیه الرحمة دمزار تر څنګ ، دشهدای صالحین په هدیره کښی په در ناوی خاورته وسپارل شو .

انا لله وانا الیه راجعون

# په لغمان کی اوسیدونکی قامونه او پرګنی

**ګرانو لوستونکو!**
**دکتور محمد سعید«سعید افغانی»په خپل کتاب کی چه (زما ژوند) په نامه یادیږی اوپه کال ( 1365 ) هجری کی خپور شوی په لغمان کی په اوسیدونکی قامونه او پرګنی باندی علمی تحقیق کړی ، ما دغه آثر مطالعه او پر هغه باندی می یو څه نوی معلومات ور اضافه کړل امید اور یم چی دغه معلومات دنورومحترمو محقیقین او پوهانو لپاره د ښه تحقیق زمینه برابره او مساعده کړی . ( امین الدین – سعید ی - سعید افغانی )**

## اول : « ساپی »

**په افغانستان کی د صافیو قوم یو لوی او مشهوره قوم دی چه وایی ددوی اول نیکه د قندهار دغوری مرغی څخه راغلی دی او ددوی نسبی سلسله د پښتنو په قامونو کی په درانیو باندی ګڼیږی، وایی صافی په غلجیو نه ګڼیږی بلکه د غلجیو سره د درانیو په وسیله وروږګلوی لری**
**دصافیو د قامونو غټی ریښی په لاندی ډول دی ٠**
**الف – ودیر**
**ب - ګربز**
**ج - مسود**
**د « ساپیو » د قوم پرګنی په ټول افغانستان کی خپری دی خودکابل په شمالی برخه کی ، کوه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

« ساپی » محمود راقی ، کو هستان ، او تګاب ددوی اصلی او مهم مرکزونه دی. ا و په مشرقی کی بیا د کنړ ولایت « ساپیان » شهرت لری او هغه ځای دځوکی په لسوالی ، با ډ یل،مز ار ، دپیچ په دره ، د سر حد څخه اخوا په سره کمر او د کنر په نورو سیمو کی اوسیږی .
ساپی به کامه کی لویه سیمه لری ، ساپی په لغمان کی دعمرزیو ، سالاب ، ګرګړ ،باړیخی ، صبر اباد ، په سیمو کی هستوګنه لری ، په الینګار کی نازی هم « سا پیان » دی ۰
په تاریخی روایتو کی راغلی : چه په کوزه پښتونخوا کی وزیر هم په اصل کی د ودیر صافیو یوه ریښه او مسود یی بله ریښه ده ۰

## دلغمان په عمرزیو کی صافیان :
## دصافیو قوم دلغمان د عمرزیو کی په دری پلرونو تقسیم شویدی ۰

1 - د خیر محمد بابا اولاده ده چه د خیر اباد کلی یی مرکز دی او لاندی ریشی لری۰
پایه خیل ، یاسین خیل ، تورخیل ، ایاز ۰
2- د عبدالمجید بابا اولاده چه په ادو خیلو مشهور دی ۰
3- د ابراهیم بابا چه په ابرهیم خیلو یادیږی ۰
اوس په عمرزیی کی دخیر محمد بابا اولاده ډیره ده . دغه خلک زړور، جنګیالي، او په میر انی شهرت لری .
دوی میلمه پا لو نکي او په پښتني ننګ او غیرت ټینګ خلک دي. ولی د اقتصادی لحاظه تر سخت فشار لاندی دی.

## دویم : د ساک ( سهاک )
دساک قوم د لغمان ولایت په مرکزی سیمو او په خاص ډول دکل بیلی په کلی کی اوسیږی او ددوی قوم ریښی موسی خیل او شمشیر خیل دی . مورخین لیکلی چی سهاک دابراهیم لمسی او دغلجي کړوسی دی چي دنسب دشجرې پر بنسټ یي اندړا و تر ه کي ورونه کڼل کیږي همدسی مورخین لیکی چی سهاک په اصل کی کوچیان دی .
دسهاک قوم د افغانستان په مختلفو سیمو کی لکه ، دکابل دیغمان ، دپکتیا ولایت دزرمت په ولسوالی کی ، دکابل د بګرامیوپه ولسولی دشیوکیو او سهاکو په کلی کی ، دیغمان په ولسوالی په بیکتوت کی ، دسروبی ولسوالی په مرکز او داوزبین په سیمه کی ، دتګاب په ولسوالی ، او دپروان په ولایت کی استوګنی لری .
سهاک لکه دلغمان دولایت دنورو قومونو په شان ، میلمه پالو نکي، غیر تمن ، په هیواد او علم او پو هې مین خلک دی .

## دریم : تره خیل:
تره خیل په اصل کي غلجي پښتا نه او د احمد زیوقبیلي پورې تړلی ښا خ دی .
تره خیل اکثرآ د لغمان ولایت د تبی کونج په سیمو او په عمرزایو کی د تندیو په کلی کی اوسیږی ولی د تره خیل خلک دکابل شمال شرق خواته په دده سبز په ولسوالی کی او په خاص توګه د ترخیلو په کلی کی هستوګنه لری .
تره خیل زیا تره دکر کیلي اوبا غداری په چارو بو خت دي. ددوی یو څو با اعتباره خلک د وخت دربار قابچی باشیان وه او د پور اعتبار خاوندان ګڼل کیدل ۰
تره خیل غیر تي، میلمه پا لو نکي،نرم مزاجه او دښو اخلاقو او کړو وړو څښتنان دي۰ دوی دعلم او ښووني او روزني له چارو سره ځانګړې مینه لري۰ددوی قو مي مشران او سپن ږیري هم ډیر درانه خلک دي
تره خیل په اصل کي غلجي پښتا نه او د احمد زیوقبیلي پورې تړلی ښا خ دی چي دکابل ولایت د دده سبز ولسوالی په تره خیلو کي، دلغمان ولایت د تبی کو نج او تره خیلو په سیمو او یو شمیر هم په کو هدامن کی میشته دي۰

## یاددونه :
دده سبز ولسوالي مر کز د تره خیلو په پل سنګي کي مو قعیت لري۰ دده سبز ولسوالي د لا ند نیوکلیو او یا ندو نه جوړه شوې ده : تره خیل،ده یحیي،بختیاران، خواجه چا شت،د پای منار پا چا صا حب،خاص ده سبز، اب دره، قلعه شاه محمد،کټه خیل،نوار، سورخي، ابد ره بالا،چارو اوده سبز بالا۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلورم : رستم خيل :
ددوی څه میشته کورونه د لغمان د ارمل به قریه کی اوسیږی او څه نور یی کوچیان دی چه د اوړی په موسم کی یخو سیمو ته ځی او په ژمی کی بیرته لغمان ته راځی ، مالداری او سودا گری ددوی کسب دی ۰

## پنځم : خروټی:
خروټي د پښتنو د غلجي دټو لنيزې ډلې پورې اړونده قبيله ګني چې ډيره مشهوره او هم د شمير له مخې يوه پياوړې قبيله شمير له کيږي چې د افغا نستان په بيلا بيلو ولا يتونو لکه پکتيکا، پکتيا، غزني، ميدان او وردګو، زابل، کند هار، هيلمند،هرات، کندز،بغلان، مزار شريف، پروان، باګرام هوايي ډګر ته څیرمه ،کا پیسا،کابل،لوګر او د لغمان ولایت د عمرزیو د علاقې په جنوبی برخه او ددغه ولا یت په مر کز او د قر غیو په او لسوالی کې استو ګنه لري۰
ولی با ید وویل شی چی دخرو ټو اصلي ځای ځا یګی او ټا ټوبی دګو مل سیمه‌ده
خروټي غير تمن،علم خو ښونکي، ميلمه پال او ديندارہ خلک دي۰ د انګر يز انو سر ه يې په در يو تا ريخي جګړو کې ډيرې توري وهلي.

## د خرو ټو د قبيلې ښا خو نه او څا نګې :
خروټي د نورو پښتني قبيلو په څير په لا ند نيو ښا خو نو او څا نګو با ندې ويشل شوي دي :
زکو خيل،يا خيل، اد يخيل، امند خيل،شمو خيل، سليما نزي،الو خيل، ادو خيل،مدو خيل،سندو خيل، علي خيل،غوري خيل، علي زي، خدر خيل،باندزي، کنداخيل، يحيي خيل، کا کل زي، جمال خيل،مالي خيل،للي خيل ، خر منځي، مارزک،زوبي خيل،عباس خيل، شهباز خيل، از غر خيل،بهادر خيل، نوروز خيل،اشرف خيل، عيسی خيل،سلطا نخيل، بهرام خيل،عصمت خيل او نور ۰۰۰

## شپږم : عبدالرحيم زي :
دلغمان ولایت دمندروړ په سیمه کی اوسیږی او په کابل کی هم کورونه لری په دوی کی ښه با همته خلک تیرشویدی.

## اوم :هودخيل :
دوی په ود خیلو شهرت لری او د لغمان د قرغیو د ولسوالی په برخه کی لویه سیمه لری او په کابل کی د کابل شرقی خوا ته ، اوسیږی .

## اتم - جبار خيل:
جبار خيل په غلجيو پښتنو کې يوه مشهوره قبيله ده . پوهان ليکی که د جبار خيلو دنسب شجره په غور سره وګورو نو دوی د احمد زيو غلجيو يوه ښنه ده ،چې د خپل نيکه جبار بابا د نا مه په وجه په جبار خيلو يا دېږي۰ د جبار بابا مزار دکا بل د خاک جبار په و لسوالۍ کې دی،له همدې کبله دغه ولسوالي د خاک جبار په نا مه سره يا دېږي چې د جګد لک او خورد کا بل تر مينځ مو قعيت لري۰
جبار خيل د ننګر هار ولايت د سره روداو حصا رک غلجا يي په ولسواليو ، دلغمان ولايت د قرغيو په ولسوالی کی دکڅ عزيز خان په سيمه، لو ګر او دکابل او جلال اباد تر مينځ سيمو لکه ګند مک، جګدلک، تيزين او دکابل ولايت په خاک جبار کې چې د جګدلک او خورد کا بل تر مينځ مو قعيت لري استوګنه لری
جبار خیل په لغمان ډیر معززی کورنی دی . په دوی کی د قامی ملی مشران اوتاریخی خلک تیر شویدی ۰
د امير دوست محمد خان دواکمنۍ په وخت کې د جبار خيلو د قبيلې مشران د احمد خان زوی عزيز خان و چې د جبار خيلو د مر يم خيلو په څا نګې پورې يې اړه در لوده۰ د عزيز خان پلار احمد خان د ډيرې مودې له پاره د امير دو ست محمد خان د مشر ورور فتح خان د نږدې مقر بينو نه و چې هغه ور ته د لغمان د کڅ په سيمه کې ډير جا ګيرونه ور کړل چې بيا ورو سته نو موړې سيمه د هغه دزوی عزيز خان د نا مه له کبله تراو سه پورې د عز يز خان دکڅ په نا مه سره يا دېږي چې د ننګر هار ددرونټې سيمې ته نږدې پر ته ده .
جبار خيل په پښتني ننګ او غيرت ټينګ، زړور، ميلمه پاله، هيوا دپا لو نکي او په علم او پو هې مين خلک دي۰ هما غسې چې د انګريزي استعمار او ښکيلاک پر خلاف يې زړورې مبا رزې کړي او توري يې وهلي دي او د بر ايډن لښکرې يې ما تې کړي دي، دروسي سور استبدادي ښا مار پر خلاف هم په مير انه جنګيدلي دي۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

په حصارک غلجا يي کې د جبا رخيلو مشهور کلي دادي: اب زنګياني، غوړيزه،نادر، ګلا خيل،حليم خيل، ظر يف خيل،سياب، چار توت،سروند، بر جنه، خنجر او کڅي ۰ مشهور خيلو نه يي مر يم خيل،نو ګيا ني خيل او نور دي ۰ جبار خيل زيا تره دکر کيلي په چا رو بو خت دي، غنم، جوار او نور حبو بات پکې کر ل کيږي.

## نهم - تره کی:

تر ه کی د لغمان ولایت په ځينی سيمو کی ميشته او د کوچيانو په ډول ژوند کوی دوی د لغمان په ولايت کی د اوښانو او څارويو په روزنه مصروف دی .
تره کی د پښتنود عنعنوي شجرو له مخې د غلجيو په ټو لنيز ګروپ پوري اړه لري۰ تره کی د موسی زوی دابر اهيم لمسی او د غلجي کړ وسی دی۰ تر ه کي زياتره د غزني ولايت د مقر، نا وې،ګيلان او اب بند په ولسواليو کي ميشته دي اود کو چيا ني په ډول ژوند کوي .

## لسم - پشه ئي:

دوی دلغمان ولایت تر ټنګ يوه کلی لری چه د پشه ئي کلی په نامه يادېږی ، دوی ځانته خاصه ژبه لری چې هغه هم په پشه يی يادېږ ی . دغه ولس د اليشنګ د دری په لورو برخو لکه دولت شاه او فراجغان کی هم او سيری او په پشه يی ژبه خبری کوی ۰ (1)

## يولسم - هزار ميبن:

دوی دلغمان ولايت د تيرګړو په علاقه کی پراته دی او غريبکاره خلک دی ۰

## دولسم - ميچن خيل:

دوی دلغمان د عمرزيو د علاقې شمال ته يو لوی کلی لری دوي هری خوا ګر ځی او د نظرانی په ټولولو کی مصروف او دېښه مهارت خاوندان دی ۰

## ديارلسم : ناصر:

دوی دلغمان ولايت د مندروړ د سيمی په جنوبی برخو کی ، او همداغسی د کابل شکردره او د افغانستان په نورو سيمو کی اوسيږی دا خلک زړور او جنګيالی دی ۰

## څوارلسم : اکاخيل:

اکاخيل په اصل کي غلجي پښتنا نه دي چې د سليمان خيلو يو ښا خ ګڼل کيږي چې زياتره يي په پووندو ډول ژوند کوي او ځانته کو مه ځانګړي سيمه نه لري۰دوی اکثره په کږديو کي ژوند کوي او د ټغرو،کيږ ديو او جو الو نو په او بد لو کي ښه مهارت لري.
دوی هم دلغمان د عمرزيو دمنطقی په شمالی برخه کی ميشته او کورونه لری د اوښانو او رمو روزنه کوی او د غره څخه لرګی راوړی او خر څوی يی ۰
اکاخيل په اصل کي غلجي پښتنا نه دي چې د سليمان خيلو يو ښا خ ګڼل کيږي چې زياتره يي په پووندو ډول ژوند کوي او ځانته کو مه ځانګړي سيمه نه لري۰دوی اکثره په کږديو کي ژوند کوي او د ټغرو،کيږ ديو او جو الو نو په او بد لو کي ښه مهارت لري
اکا خيل زيارکښه خلک دي،ځيني خلک يي د سو داګر يو په کا رونو کی هم بو خت دي۰دا کا خيلو ځو انان په ا تڼ کي ډېر تکره دي او د خو ښيو او خو شاليو او ودونو کي ددوی ځو انان چې ښا يسته او ړدي ځڼي لري په خپلو ماهرانه اتڼو نو سره محفلونه تاوده ساتي۰

## پنځلسم : ديګان « دهکان »

ديګان « دهکان » په لغمان هغه خلکو باندی شمريل کيری چې اصلاً په دری ژبه خبری کوی دديګان قوم نه تنها په لغمان کی بلکی ددی کورونه د افغانستان په نورو سيمو کی هم شته ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپاړسم : محمد زي :
دوی ځای ځای کورونه لری او د محمد ځیو پا د شاهی کورنی په وجه دوی هر چیری ښی آبادی ځمکی تر لاسه کړی دی ۰

## اولسم : ریکا ګان :
دوی دلغمان ولایت د چاردهی په علاقه کی محدود کورونه لری ولی ددی اصلی مر کز دکابل ریکا ده .

## اتلسم : عمرخیل:
دعمر خیلو دقبیلی خلک دلغمان د چاردهی ( شاه ګذربابا او قلعه اخوند کلي تر څنګ ) کی زمینداره کورنی دی او د کابل په میدان ولایت دنرخ په ولسوالی، دکندز ولایت دعلي اباد په ولسوالی او دبلخ ولایت دشولګرې او بلخ په ولسوالیو کي هم استو ګنه لري۰

## نولسم - وریا خیل:
اور یا خیل په اصل کی غلجي پښتنا نه دي چي ددغي قبیلی زیات شمیر خلک دکابل و لایت د پغمان په او لسوالی کي او دبغلان د ولایت په مرکز کی ،استو ګنه لري.
د اوریا خیلو مشهور کلی د پغمان په ولسوالی او سیمه کی د خالدار یو په نا مه سره یا دیږي۰ یو شمیر اوریا خیل د کابل د لویدیځ په للندر او یو شمیر هم د میدان په و لایت کي استو ګنه لري۰
مورخین لیکی چی یو شمیر اور یا خیل د پکتیا ولایت د زرمت(زرملي) په اولسوالی کي هم میشته دی۰
وریا خیل د لغمان د ولایت په مرکز مهترلام د عمرزیو دعلاقی په لر او بر او ددغه ولایت دقرغیو په ولسوالی کی استوګنه لری . د عمرزیو د علاقی په لر او بر کی هستوګنه لری او خلک یی کاریګر او دهقان کاره دی دوی د کابل په پغمان او دبغلان دولایت په مر کز کی هم ځمکي او کورونه لري .
اوریا خیل میلمه پالو نکي ،زړور ، غیرتي او په خپلواکی مین خلک دي۰

## شلم : وردګ:
دوی دلغمان ولایت د عمرزیو دعلاقی په جنوبی برخو کی اوسیږی او په کابل کی د وردګو علاقه ، قام او حکومت مشهور دی ، په دوی کی ښه د کار او میران خلک تیر شویدی او د انګلیسانو داستعمار په مقابل کی د غازی محمدجان خان مبارزه د هیریدو نه ده دا قام تل په سیاسی جریاناتو کی لاس او برخه لری ۰

## یویشتم : تاجک :
دوی په لغمان او د افغانستای په نورو ولایاتو کی اوسیږی ژبه یی دری ده۰ چي د فارسی ژبی سره سره لږ تو پیر لري . وایی دری د دربار څخه اخستل شوی او دا ژبه یو وخت د درباریانو ژبه وه ۰

## دویشتم: میرعلی خیل :
دوی دلغمان د باد پیښ په علاقه او نورو سیمو کی اوسیږی ۰

## درویشتم : نیازی:
دوی دلغمان د ولایت داعلینګار په سیمه کی پراته دی ددوی کورونه د کابل جنوبی خواته هم شته ، وایی دوی د صافیو یوه ریښه ده۰
څوک وائي : چي دوي مستانه کورني ده .
نیازي په کندوز او خان آباد کي هم ځمکي او کورونه لري ، چي غټ کلي ئي ملرغي نومیږي نیازي د پاکستان د پنجاب په سیمه کي هم ډیر شمیر او سیږي . نیازي د تخار ولایات د تالقان دمر کز او مربوطاتو کي لکه دقو لبرس په سیمه څیر هم او سیږی ، خصوصآ په قو لبرس کی ډیری ځمکی او کورونه لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلورویشتم :اړوکی:

دوی د لغمان د الینګار په منطقه کی اوسیږی او ددوی تر څنګ خانی او اختیار خیلو په نامه نور پښتانه قامونه هم پراته دی ۰

## پنځه ویشتم : الکوزي (الکوځي):

الکوزي دپښتنو یوه تا ریخي او لر غونې قبیله ده . دوی په لغمان کی لږی کورنی لری مګر د افغانستان په نورو ولایاتو کی لکه دکند هار ،اروزګان ، زابل ،هلمند ،فراه ، هرات ، بادغیس، کو نړ ، په سهیلي پښتو نخواکې په پاکستان ، او په جنوبی هندوستان هم کی استوګنه لری .
دکو نړپه ولایت کې د الکو زیو یو ه ځانګه چې د سر کا نیو په نا مه سره یا دیږي ددغه ولایت د سر کا نیو په اولسوالۍ کې استوګنه لری . مورخین لیکی : دکو نړولایت الکوزی په اصل کې د ځینو عو املو له کبله ډېر پخوا له کند ها ره څخه دغه سیمې ته را لیږدیدلي او دلته میشته شوي دي . چې زیاتره خلک یې د کرنې او سو داګرۍ په چارو بو خت دي او د چارتراشو سوداګري هم کوي ۰
الکوزي په علم او پو هي مین ، زړور،غیر تي او میلمه پاله خلک دي.

## شپږویشتم : سادات

دوی دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم اولاده ده په لغمان کی ځای په ځای کورونه لری ، دوی ته میران او پاچایان هم وایی په لغمان کی خواجه ګان د ابو بکر صدیق ( رض ) «حضرات »او د حضرت عمر فاروق اولاده هم شته ۰

## اوه ویشتم :لطف الله خیل

دوی دلغمان ولایت د تیر ګړو خانان او هلته د سنګ توودی ( سنګ تودو) د قریه اوسیدونکی دی.

## اته ویشتم : بابکر خیل

بابکر خیل په اصل کی غلجي پښتانه دی . دوی د لغمان ولایت مرکز او د الینګار ولسوالی ، خان کلا، سه صده او هر مل کی استوګنه لری . بابکر د سیمی مشهور خانان دی .
بابکر خیل یو شمیر خلک د کابل او ننګر هار تر مینځ د سرو بي و لسوالۍ په جګد لک او تیز ین کې هم استو ګنه لري۰ دغه راز د کابل د خاک جبار د خورد کا بل په سیمه کې هم یو شمیر با بکر خیل میشته دي . په دې سر بیره دکا بل د چهار اسیاب په ولسولۍ کې هم یو شمیر بابکر خیل استو ګنه لري۰ دلو ګر ولایت په یو شمیر سیمو کې هم با بکر خیل ژوند کوي۰

بابکر خیل په خپل وخت کی درباری خلک ؤ .
با بکر خیل زړور، جنګیالي، میلمه پال او په پښتو او پښتو نولۍ با ندې ټینګ مشهور خلک دي .
دوی دانګر یزانو پر خلاف ډیرې توري وهلي او ډیرې میرانې یې ښودلي دي۰ دافغان او انګرېز تر مینځ په لو مړۍ جګړه کې غا زي محمد شا ه خا ن غلجی چې په اصل کې د لغمان د بدیع اباد د با بکر خیلو له مشر انو نه و د ۱۸٤۱ میلا دي کال د نو امبر په ۲۸ مه نیټه چې د ۱۲۵۷ هجري کال د شوال دمیا شتې ددیا رلسمې نیټې سره سمون خوري د غازي میر مسجدي خان او غا زي سر دار محمد اکبر خان په ملګر تیا دنوروملي مبا رزینو په ګډون سره یوځای شول ،څو د انګر یز انو په مقا بل کې دملي پا څون لیکي نورې هم پیاوړي کړي چې په پای کې د خلکو د پا څون په بر کت د انګر یز انو یر غلګر ځو اکو نه دې ته اړ شول چې د ۱۸٤۲ کال د جنورۍ په ٦ مه نیټه کا بل خو شي کړي او وتښتي۰

## نه ویشتم :نورستاني

په لغمان کی ددوی کورونه شته خو د لغمان شمال ته د نور ستان سیمه یوه لویه ولسوالی ده چه اکثره یی په ځانګری ژبه غږیږی ( سانسکریت ) ، دوی د امیر عبدالرحمن په زمانه کی تابع او مسلمان شویدی د امیر حبیب الله خان په دوره کي ددوي ډیري ښځي او نجوني دوینځو په توګه دهغه دربار کښی خدمتونه کول .چي د امیر امان الله خان په دوره کي آزادی کړل شوی ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نورستان دخلکو بچیان د امیر عبدالرحمن خان په دوره کی دربار ته لاره پیدا کړه چه په دی اثر ډیر پاخه او پوره خلک پکی وروزل شول چه بیا ورسته د افغانستان په اجتماعی ، ساختمانی سیاست او ازادی په ساحه کی لوی رول درلود ، امیر حبیب الله په لغمان کی د قلع السراج تعمیر او باغ اباد کړ ، دا ځای په ژمی کی د امیر حبیب الله ژمنی پلازمینه و چی د بچی سقاو په وخت کی دا دملت په پیسو اباد شوی تعمیر وران او ویجاړ کړ شو ، امیر حبیب الله خان به د لغمان په کله گوش کی هم میلی چرچی او شکار کولو چه اخر هم هلته د شپی له خوا په خیمه کی د یو نامعلوم شخص له خوا وویشتل شو دده د مرگ څخه وروسته دده څوی امیر امان الله خان باچا شو ۰

## دیرشم : درگي :

دوی دلغمان ولایت په شمال شرق د شمنگل په قریه او د درگو د اوبو له پاسه کلو کی اوسیږی او کوچیان هم لری ۰

درگی میلمه پال او په پښتو او پښتو نولی با ندې تینګ مشهور خلک دي .

## یو دیرشم :علی خیل :

دوی د لغمان ولایت په شمال شرق دشمنگل او صابره ډوپی کلي کی اوسیږی او څه کورونه یی په کابل کی هم شته.

علی په میله پالانه کی مشهور خلک دی .

## دودیرشم : ابراهیم خیل:

مورخین لیکی : چی ابراهیم خیل د غلجیو پښتنو د تو لنیز گروپ او په هغې پورې اړونده قبیلې سلیمان خیلو څخه دی . دابراهیم خیل قبیلی خلک د افغا نستان په ډیرو ولا یتو نو او له هغې جملې نه دکابل ولایت دپغمان په ولسوالۍ کی ،دمیدان او وردگو دولایت دمیدان ښار دابراهیم خیلو په سیمه کی ، دپکتیا ولایت د مرکز دگردیز ښار په سهیلي بر خه،دلوگر ولایت په بیلا بیلو ولسوالیو کی ،دلغمان ولایت د قر غیو په ولسوالۍ مندروړ دهغه ولسوالی په شاو خوا کلو کی میشته دی ۰

او همدغسی دابراهیم خیلی د قبیلی یو شمیر خلک دافغا نستان دبلخ ، کندز غزني ،زابل او بکتیکا په ولایتونو کې استوگنه لری .

ددغې قبیلی یو شمیر خلک د کرنې او ما لدارۍ په چا رو بوخت دي او ځینی خلک یې د سوداگرۍ او راکړې ور کړې کا رونه ترسره کوي ۰ددغې قبیلې یو شمیر په دولتي چارو بوخت دي۰ ابراهیم خیل میلمه پال پښتانه دي ،ددوی حجرې هر وخت د میلمنو پر مخ پرانیستلی وي۰دوی دعلم او ښوونې او روزنې سره ډیره مینه او محبت لری .

## دري دیرشم : محمد خیل:

د دی قوم اکثر خلک د لغمان په ولایت کی هستوگنه لری دوی میلمه پال او په پښتو او پښتو نولۍ بندی مین خلک دی .

## څلور دیرشم : خیرو خیل:

ددی قوم اکثر خلک دلغمان د ولایت د مندروړ په جنوبی ساحو کی پراته دی ۰

## پنځه دیرشم : قولان:

دوی لکه د کوچیانو په شان کابل او مشرقی او په خاصه توگه کابل ، لغمان ته تگ راتگ کوی . قولان زیا تره د سو داگرۍ او دتجارت په چا رو کی بو خت دي . قولان اوس یی په کابل کی ډیر کورونه او تجارتونه پیدا کړی دی ۰ _دوی میلمه پالو نکي اووطنپالونکی خلک دي۰

## شپږ دیرشم :حسین خیل:

حسین خیل په غلجیو پښتنو کې یوه نا متو قبیله ده۰ ددغې قبیلې خلک دلغمان ولایت مر کز مهتر لام ته نږدې په یو شمیر کلیو په تیره بیادده زیارت په کلي او یو شمیر یې د کا بل د بگر امیو د ولسوالۍد شیوه کیوپه شا او خوا سیمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې ژوند کوي٠ د پر وان و لایت په یو شمیر و لسو الیو په تیره بیا په قره باغ اومیر بچه کوټ کې هم یو شمیر حسین خیل او سیږي٠ همدارازدمیدان او وردګو ولایت مر کز ته نږدې اوهم د نر خ په ولسوالی کې یو شمیر حسین خیل غلجي میشته دي٠ دننګر هار ولایت د چپر هار ولسوالی د ما نو په کلي کې هم یوڅو کوره حسین خیل شته چې ویل کیږي د میدان ولایت نه ډیره موده پخوا دغې سیمې ته لیږدید لي دي

حسین خیل میلمه پا لو نکي، په علم او پو هې مین خلک، پر مختګ غو ښتو نکي، غیرتي اوپه هیواد او خپلو اکې مین خلک دي٠ دوی زیاتره د کر کیلي او سو داګرۍ په چارو بو خت دي٠ یو شمیر خلک یې دو کا نو نه لري،څینې حسین خیل دولتي دندې هم لري٠

## اوودیرشم :اهل هنود:

دوی هم دلغمان ولایت د تیر ګرو په قریه کی ساکن دی او هلته ځانله درمسال لری چه خپل دینی مناسک هلته اجرا کوی دوی هم تجارت پیشه دی او د تیرګرو په پخوانی بازار او اوس دلغمان په ولایت کی دوکانونه لری

دلغمان ولایت د قامونو او ولسونو په ریښو کی زیاتی مطالعی او څیړنی ته ضرورت لری او په اقتصادی ، جغرافیوی او تاریخی مسایلو کی یی بحث پوره ریسرچ غواړی ٠

په عمومی لحاظ د لغمان په ولایت کی د قومونو مختلفی پرګنی پیدا کیږی او داسی معلومیږی چه د تاریخ په مسیر کی په لغمان باندی ډیر مختلف انقلابات ، تحولات او تطورات راغلی دی ، خو ددی ټولو سره سره باید ووایو چه اوس هم دلغمان ولایت اکثره کورونه د ختو ، پخی یا خامو خشتو کورونه دی چه بی د کومی نقشی ابادی او په بی نظمه توګه عمومی حیات د مشکلاتو او لانجو سره مخامخ دی همدارنګه اوس هم هلته اکثرا د قرن اولا د دوری رسمونه ،رواجونه او عادت جریان لری ٠

دلغمان خلک د زیات طبعی ذکاوت لرونکی دی او خاوره یی د زراعتی او تخنیکی ښه بدلون لپاره اماده ده ٠

**په ډیر تاسف سره باید وویل شی چه په لغمان کی د قامونو او پرګنو د نفوسو تراکم ، بی کاری او بی غوری زړه سوزونکی ده چه د قدرت خاوندان باید ورته جدی او خاصه پاملرنه وکړی .**

## ګرانو لوستونکو!

اوس په لغمان کې ګڼ شمیر قومونه دوروروولی په فضا کې ژوند کوي او په بیلابیلوژبو خبرې کوي لکه: پښتا نه، تاجک،پشه یي، نورستاني،وامه یي،عرب،ګوجر، کوچیان،هندوان، سکان او نورقومونه ، هرقوم ځا نګړې رسمونه او فرهنګ لري اوپه خپله ژبه خبرې کوي څینی بیا نورې ځانګې اولهجې لري هرقوم په لس ګونو لوی او واړه نورقومونه (خیلونه) لري.

داوسنیو سر شمیرنو له مخې په سلو کې ۷۳ پښتانه، په سلو کې ۱۴ نورستاني (که څه هم اوس نورستان مستقل ولایت دی) په سلو کې ۱۲ پشه یي (شاړي) همدارنګه نور وروڼه قومونه لکه تاجك، عرب، هندوان، ګوجر، سادات او نور ددې ولایت اوسیدونکي دي. ( ټولوونکی : امین الدین سعیدی – سعید افغانی )

---

**( 1) محترم (محمد زمان کلمانی ) د پشه یی قوم په باره کی په خپل تحقیقاتی آثر کی لیکی :**

( پشه یی ها یکی از اقوام باستانی افغانستان وباشندګان اصلی افغانستان اند که اکثرًادردامنه های جنوب سلسله کوه های هندوکوش ساکن می باشند. که در ولسوالی های اله سای ، کوهبند نجراب ، تګاب وکوهستان های ولایت کاپیسا ، در ولسوالی های الینګار، الیشنګ ، دولت شاه ، قرغه یی ومرکز ولایت لغمان ، در ولسوالی شیوه ، دره نور و مرکز ولایت ننګرهار، درولسوالی نورګـل ، ومناطق چلس ، کونه ګل وکوردر ولایت کنرها ، در ولسوالی های ننګراج ودوابه ولایت نورستان ، در منطقه اوزبین ولسوالی سروبی و دره پشه یی ولسوالی پغمـــــــان ومرکزولایت کابل ، در ولسـوالی های جاغوری و مالستان ولایت غزنی ، در تګاب پشه یی ولسوالی خوست فرنګ ، در دره پشه یی قاصان ولسوالی اندراب ودر بغلان مـرکزی ولایت بغـــــلان ، در نار چمن ولایت تخار ، در شهر بزرګ ولایت بدخشان و در بعضی محلات ولایت کندز ، بلخ ، فـــــاریاب وهرات در پهلوی سایر اقوام باهم برارردر کشور زیست نموده ونفوس تقریباً پنج فیصد کشور را تشکیل داده وبه زبان پشه یی تکلم مینمایند.

ازاسناد تاریخی وبه خصوص ازسرود های ریګ وید برمی آید که قبیله ویدی آریایی های بلخ قدیم از طریق دره های هندوکش به مناطق شرقی و جنوب غربی پراګنده شده و برخی از این مردم از کنار دریای کوبها (کابل) ومعاونین آن از طریق نجراب، تګاب، سروبی، ولغمان به حوزه دریای کنر رسیده واز ان جا به مناطق سواستو یعنی به نواحی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریای سوات پراگنده شده ودر ین دور و نواحی سکونت اختیار کرده اند که پشه یی های امروز برخی از این مردم است.

به استناد سرود های ریگ وید ( ۱۴۰۰ق م ) ودیگر اسناد و دلایل موثق پشه یی های امروز درآن زمان بنام الینا یاد شده و در جنگ ده قبیله آریایی آن زمان که مشهور است نام ومقام درخشنده داشته است. در نتیجه این جنگ که میان سوداس مربوط قبیله بهاراته و ویسو مترا به وقو پیوست سوداس و قبایل متخد آن پیروز گردیده وراه رفت و آمد ده قبیله آرایایی که به نام جبهه ویسو مترا نامیده میشد بطرف هند مسدود شده و در منطقه خود باقی ماندن.
از این جمله الینایی ها که پشه یی های امروزی و دیگر اقوام داردی و نورستانی شامل آن میشود به طرف شمال دریای کوبها در دره های شاداب الینگار و الیشنگ سکونت اختیار کرده و بعد به مرور زمان بنا بر کثرت نفوس و عوامل دیگر در اطراف و نواحی آن دره ها و بخشهای وسیع شمال غرب کندهارا ( وادی بین کابل و پشاور ) پراگنده و مسکن گزین گردیدند. درنامهای الینگار و الیشنگ که جای بود و باش پشه یی ها بوده و حال نیز اکثر پشه یی ها در این مناطق و اطراف آن سکونت دارند و نیز د اله سای ریشه کلمه الینا موجود بوده و الینگاردرزبان پشه یی معنی جای و خانه الینا را میدهد.)

د مقالی نوم :

په لغمان کی اوسیدونکی قامونه او پرگنی
لیکوال : مولوی داکتر محمد سعید « سعید افغانی »
تولوونه او کمپوزگر : الحاج امین الدین « سعيدي – سعید افغانی»
دافغان استراتیژیکو څیرنیزمرکز اودحق دلاری کلتوری ټولنی مدیر مسؤل – جرمني
خپروندي : دحق دلاري كلتوري ټولنه جرمني

دیزاین: الحاج سلیم عابد پیمان سویدن

پته: saidafghani@hotmail.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**